هدايت الله هدايت

د ۲۰۱۰ کال د مي ۱۸

# د نړۍ د وتلو رسنيو او ورځپانو پېژندنه (۲۰) فاينشيل ټايمز ورځپانه

## د فاينشيل ټايمز ورځپانه



FINANCIAL TIMES

فاينشيل ټايمز (FT) Financial Times يا مالي ټايمز د انګلستان په اقتصادي حوزه کي يوه تر ټولو مهمه او مشهوره نړۍ واله ورځپانه ده ، دغي ورځپاني د خپل فعاليت د يوې پېړۍ نه زياتو کلو کي نن د تجارت او مالي چارو په برخه کي د انګلستان او نړۍ د مطرحو او نامتو ورځپانو په کتار کي راځي.

فاينشيل ټايمز د لندن د مالي لاربنود (London Financial Guide) تر عنوان لاندي د ۱۸۸۸ د جنورۍ په نهمه د جمز شرايډن James Sheridan او د هغه د ورور لخوا تأسيس او د هماغه کال د فرورۍ په ۱۳ مه د فاينشيل ټايمز په نامه ونومول سوه ، په لومړي سر کي دغه ورځپانه په څلورو مخونو کي خپرېدله . فاينشيل ټايمز په ۱۸۹۳ کال کي ددې لپاره چي ديوې بلي ورځپاني څخه چي د فاينشيل نيوز په نامه يادېدله Financial News) او د ۱۸۸۴ راهيسي خپرېدله، څه توپير ولري نو په چاپ کي يې د کاهي رنګه کاغذ څخه کار واخيست او په هغه باندي يې ځان متمايزه کړ.

فاينشيل ټايمز چي کلونه يې په مالي او اقتصادي حوزه کي د انګلستان د نورو څلور ورځپانو سره رقابت او سيالي درلوده بلاخره لکه د سرمايه دارۍ نظام نور اړخونه چي په خپلو کي يو او بل ته نغم کيني، دا هم په دې و توانېدله چي په ۱۹۴۵ کي خپله وروستۍ سياله د فاينشيل نيوز ورځپانه د ميدانه څخه و باسي.

دغه سهارنۍ ورځپانه چي په لندن کي خپرېږي د انګلستان د دولت په اقتصادي سياستو کي تر ټولو مهم او تاثير ګذاره ورځپانه ده. فاينشيل ټايمز ورځپانه په اقتصادي او مالي چارو کي د نړۍ د ددو لويو او مشهوره ورځپانو څخه يوه ده چي د نړۍ عمده اقتصادي او تجارتي فعاليتونه منعکسوي. هغه بله ورځپانه د وال ستريت ژورنال ورځپانه ده چي فاينشيل ټايمز يي د ځان اصلي سياله بولي. نوموړې ورځپانه هم د نړۍ دنړۍ د لويو ميلياردرانو د مالي تبليغاتو او ورته چارو اورګان دئ چي په نيويارک سيټي کي خپرېږي. فاينشيل ټايمز ورځپانه د انګلستان د تجارت او اقتصاد او همدارنګه د انګلستان د بازار و بورس (۱) د چارو څخه چي مرکز يي په لندن کي دئ مفصل او مغزن ګزارشونه خپروي. ورځپانه يوه ډېره چټکه او ډېره غني انټرنيټي شبکه هم لري چي اقتصادي او مالي خبرونه او ګزارشونه پکښي په ليکه کيږي.

فاينشيل ټايمز د تير کال (۲۰۰۹) د دسامبر په مياشت کي د سن ګېج Cengage د خېرندويه مؤسسي سره يوځای په اقتصادي او سياسي برخو کي خپل د ۱۲۰ کالو د مطالبو او مقالو آرشيف و خپلو مينه والو ته په خپله ويبپانه کي په ليکه کړ. سن ګېج Cengage، ددې ورځپاني د تأسيس څخه يعني د ۱۸۸۸ کال څخه بيا د ۲۰۰۶ کال تر آخره پوري د ۷۹۰ زره صفحو په حدودو کي د ورځپاني آرشيف ډيجتالي کړی دئ. دغه آرشيف د سږ کال د جنورۍ د نيمايي څخه د ګډون کولو او يا رانيولو په صورت کي دعامه او دولتي کتابخانو په واک کي اينسودل کيږي. په دې توګه په دغه پانه کي د ورځپاني ټولي مقالي د هغوی د بشپړه محتوياتو سره په جلا جلا توګه لکه ځرنګه چي چاپ سوي وې لټېدلای سي، او د بازار د اعلاناتو او فهرست سره يو ځای بنکاره کيږي.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املايی و انشايی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.

فایننشیل ټایمز د ایکونومیسټ او ټایمز د خبري ورځپاڼو څخه وروسته دریمه ورځپاڼه ده چې خپل آرشیف یې د کتابخانو د پاره ډیجیټالي کړی دئ.

دغه ورځپاڼه معمولاً د خپلو خبرونو لپاره دوې برخې لري، لومړۍ برخه یې ملي او نړۍ واله خبرونه دي چې تر خپل پوښښ لاندې یې راولي او دوهمه برخه یې د لویو شرکتو، بانکو او مالي خبرو ته وقف کړېده. د فایننشیل ټایمز ورځپاڼه که څه هم د اقتصادي خبرو، تحلیلو او ګزارشو پله یې درنه ده، خو داسې نده چې په همدې اختصاصي حوزه کې منحصره پاتې سي، بلکه دغې ورځپاڼې داسې لاره غوره کړېده چې د خپل اقتصادي لید لوري پر بنا د ورځې و ټولو ورځني مسائلو ته ننوزي او ټولنیز او فرهنګي موضوعات هم پکښې ځای کړي.

د اقتصادي او د نړۍ د تجارتي خبرونو نه علاوه، د فایننشیل ټایمز د جاذبې یو بل اساسي دلیل ددې ورځپاڼې په غوره او ژورو تحلیلو کې هم څوک لټولای سي. دغه ورځپاڼه د خپل څه کم ۵۰۰ خبریالان لري چې ددې جملې څخه یې ۱۱۰ تنه د نړۍ په زیاتره مهموتجارتي ښارو کې فعالیت کوي. ورځپاڼه د ورځې پر مهمو مسائیلو باندې د ورزیده کارپوهانو او تحلیلګرانو لخوا ژوري تحلیلي لیکنې لري، ددې ورځپاڼې سیاسي تحلیلونه په ټوله نړۍ کې و زیاتو مینه والو ته دخاصي پاملرنې وړ دي، ان لا ویل کیږي چې د نظام په ساتلو کې پخپله د انګلستان دولت هم په خپلو زیاتو پریکړو کې د هغه نه الهام اخلي!

د ۱۹۷۰ په لسیزه کې تجارت او سرمایې خپل سرحدونه مات کړل اود ټولې نړۍ د لاندې کولو د پاره یې ځانونه و غزول، د فایننشیل ټایمز ورځپاڼې هم په همدې لسیزه کې خپله نشراتي ساحه د پرمختللي ټکنالوجۍ په کارولو سره پراخه او د کال ۱۹۷۹ د جنورۍ په لومړۍ نېټه، دغه ورځپاڼه په فرانکفورټ کې خپره او ددې نه را ورسته یې د یوې نړۍ والي انګلیسي ژبې ورځپاڼې په حیث وپېژندل سوه چې انګرېزي ته یې د تجارت او بزنس د ژبې خطاب وکړ، او د اروپا، امریکا، اسیا او مینځنې ختیځ په ۲۵ ساحو کې یې ځانته د خپرېدو امکانات برابر کړل. نن دغه ورځپاڼه په څه کم ۵ لکه نسخو کې چاپیږي، فایننشل ټایمز ډاټ کام ان لاین ویب پاڼه هم ۱۳ لکه راجستېر سوي لیدونکي لري چې د تجارتي اړخه د نړۍ تر ټولو د معلوماتو ډک سایټ دئ.

په ۱۹۹۷ کې د فایننشیل ټایمز ورځپاڼې د خپل امریکایي ایډیشن چاپ په نیویارک، شیکاګو، لاس انجلس، سان فرانسسکو، ډالاس، اتلانټا، اورلانډو او واشنګټن ډي سي کې شروع کړ. که څه هم په ۱۹۸۵کې ورځپاڼه د لومړي ځل دپاره د نیویارک د باندې خپره سوې وه. په ۲۰۰۹ کې ددې ورځپاڼې امریکایي تیراژ څه کم یو نیم لک نسخو ته رسېدلی وو. د ۱۹۹۸په سپټمبر کې فایننشیل ټایمز لومړنی انګلیسي ورځپاڼه وه چې پخپله تر انګلستان دننه یې د هغې زیاتې ګڼې د نړۍ په نورو هیوادو کې خرڅې سوې وې. ددې ورځپاڼې نړۍ وال د توزیع رقم نیژدې څلور نیم لکه نسخو ته رسیږي، حال داچې پخپله انګلستان کې یې فروش نیژدې ۸۵۰۰۰ نسخې دئ.

دغه ورځپاڼه نور زیات ضمایم هم لري لکه د نړۍ بورسونه، د لویو شرکتو او د اسعارو په اړه پراخې څېړنې. او داسې نور چې دغه ټوله بیا د اوونۍ په پای یعنې د شنبې په ورځو کې د یوې پر حجمه ورځپاڼې او مجلې په توګه خپریږي چې د فایننشیل ټایمز ویک اینډ (F.T Weekend) په نامه یادیږي. ددغه ضمیمې په متن کې مالي، تجارتي، اقتصادي، او اجتماعي ګزارشونه پربمانه لیدل کیږي چې تیراژ یې کله تر عادي ورځو لا مخته ولاړ سي.

د ۲۰۰۰ کال را په دې خوا د فایننشیل ټایمز ورځپاڼه د جرمني په هامبورګ کې په جرمني ژبه هم خپلې خپرونې د فایننشل ټایمز ډویچ لنډ (Financial Times Deutschland) په نامه شروع کړې. ددې خپرونې تیراژ هم څه کم یو لک نسخو ته رسیږي.

که څه هم د فایننشیل ټایمز ورځپاڼه د ټایمز نوم د ځانه سره لري خو د لندن د ټایمز د ورځپاڼې سره هیڅ کومه اړیکه نلري، هغه ورځپاڼه خپل ځانته آرګاو بارګا لري او مستقلانه خپروني کوي.

په اوسني وخت کې ددې ورځپاڼې اصلي مالکیت ، د پي ایل سي پییر سن (Pearson PLC) شرکت په لاس کې دئ چې د رسنیو د چاپ او خپرېدو په عرصه کې یو لوی شرکت دئ او مرکزي دفتر یې په لندن کې موقعیت لري. دغه شرکت د انګلستان، هند، استرالیا، نیوزیلنډ د ورځپاڼو او کتاب چاپولو تر ټولو لوی شرکت دئ خو په امریکا او کاناډا کې بیا دوهم لوی مقام لري. نومړی شرکت د همدې نشراتو او په میډیا پورې د تړلو برخو دلاري کله په یوه کال کې ۷ میلیارډه او ۲۴۶ ملیونه ډالره فروش هم درلود، یوازې په تېرکال یعنې ۲۰۰۹ کې یې څه کم ۵۰۰ میلیون ډالره خالصه ګټه کړې وه!


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

يا دداښت :-

(۱) د لندن دبورس بازار چي په انګرېزي کي د London Stock Exchange ورته وايي مخفف يي LSE دئ . دغه د بيع لرونکو اسهامو د خرڅولو او رانيولو بازار په لندن کي د انګلستان او نړی تر ټولو فعاله د لويو تجارانو، شرکتو او ورته ډلو لخوا پرمخ بېول کيږي.

مأخذونه :-

http://www.ft.com/home/uk
http://en.wikipedia.org/wiki/Financial_Times
http://www.newworldencyclopedia.org/entry/Financial_Times
http://en.wikipedia.org/wiki/Pearson_PLC


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de